Ethno-Medizinisches Zentrum e.V.

Bundesministerium für Gesundheit




# روغتيايي لار ښودنه

## په المان کې د پناه غوښتونکو لپاره

Paschto

# Impressum امپریسوم

**Herausgeber نشرونکی**
Bundesministerium für Gesundheit د روغتیا فدرالي وزارت
Task Force Migration und Gesundheit
Referat Z 24 „Migration, Integration, Demografie und Gesundheit“
د کار قوه په ټولنه کې شاملول او روغتیا
شعبه څیت ۲۴ " مهاجرت ، په ټولنه کې شاملیدل، د ټولنې پېژندنه او روغتیا "
11055 Berlin
www.bundesgesundheitsministerium.de

**Gestaltung جوړخت**
(EMZ e.V.) ( اي ایم څیت ) ایتنو صحي مرکز
eindruck.net

**Titelfoto (د مخ پاني انځور (عکس)** © Bundesministerium für Gesundheit

**Druck چاپ:** unidruck.de

**Stand وخت:** Februar 2016 (2. Auflage) وخت : فبروری ۲۰۱۶ ( دوهم چاپ )

**Diese Publikation des Bundesministeriums für Gesundheit können Sie jederzeit auch in den Sprachversionen Deutsch, Englisch, Arabisch und Kurdisch-Kurmanci kostenlos anfordern:**

**د روغتیا فدرالي وزارت دا نشریه تاسو هر وخت کولی شئ هم په الماني، انګریزي، عربي، او کردي . کرمانجي ژبو په بي بیې توګه لاس ته راوړئ:**

**Online د انلاین له لارې:** www.Ratgeber-Gesundheit-fuer-Asylsuchende.de

**E-Mail ایمیل:** bestellportal@ethnomed.com

**Schriftlich لیکل:**
Ethno-Medizinisches Zentrum e.V.
Königstraße 6, 30175 Hannover

# فهرست


**1. د روغتیا په اړه عمومي مالوماتونه . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . 3**

د او سېدني په ځایونو کې د ملاقات وختونه . . . . . . . . . . . . . . . 4

د درملني کاغذونه او الیکترونیکي روغتیایي کارتونه . . . . . . . . . 4

مرسته کونکي موسیسې . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . 5

ډاکتېراني او ډاکتېران په خپلو شخصي کتنځایونو کې . . . . . . . . . 6

روغتون . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . 7

بېړني وختونه . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . 7

درملتون . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . 8

لومړنۍ معاینې . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . 10

واکسین . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . 11

حاملګي . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . 12

ماشومان او ځوانان تر ۱۸ کلني عمر پوري . . . . . . . . . . . . . . 12

د غاښو در ملنه . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . 13

**2. د ناروغیو او میکروب اخیستلو نه د ځان ژغولو په اړه عملي لار شودنې . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . 14**

په دقت او دوام داره توګه د لاسونو وینځل . . . . . . . . . . . . . . 14

ټوخا او ترچا کول . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . 16

لو مړنیو علامو ته توجه وکړئ . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . 17

**ضمیمه 1: معاینات . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . 18**

**ضمیمه 2: د واکسین د مالومات لیکلو لپاره عوضي فورمه . . . . 19**

# 1. د روغتیا په اړه عمومي مالوماتونه

په المان کې د رملنه د روغتیایي بېمې په واسط کیږي. که تاسو په المان کې پناه غوښتونکي شي ، تاسو په لومړي سر کی روغتیایي بیمه نه لري . له همدې کبله دولت ستاسو روغتیا تامینوي . دا به د سوسیال دفتر وی (Sozialamt) او یا به د عامې روغتیا اداره (Gesundheitsamt) وي . په روغتیایي تامین کې د یوې ډاکترې یا ډاکټر له خوا درملنه ، د غاښو ډاکترې یا د غاښو ډاکټر له خوا د غاښونو درملنه ، او د روغتیایي له نظره ضروري واکسینونه او نور وقایوی معاینات .

دولتي اداري د روغتیایي موسساتو سره په ګډه همکاري کوي .

تاسو د یوې ډاکترې او یا ډاکټر له خوا هغه وخت معاینه کیږي ، چې

- تاسو سخت یا عاجل ناروغه شي ،
- تاسو درد ولري ،
- تاسو د حاملګې په حالت کې یاست.

د حامله میندو ماشومان او شکنجه شوي معیوب کسان په خاصه توګه امن ته اړ تیا لري. په روغتیاي درملنه کې ستاسو اړ تیا وي په خاصه توګه په نظر کې نیول کیږي .

## اړین (مهم) ټکي:

اړین ټکي : هیله کیږي ، چې د خپل ټول درملني کاغذونه چې تاسو ته در کول کیږي ، له ځانه سره وساتي ! د ببلګې په توګه د واکسین کاغذونه (Impfausweis) او د حامله میندو کاغذونه (Mutterpass) . په دې کاغذونو کې مهم مالوماتونه لیکل شوي وي ، چې بیا وروسته ډاکټر ته د ورتګ په وخت کې او په روغتون کې پاته کېدو په وخت کې مهم ګڼل کیږي .

## د او سېدني په ځايونو کې د ملاقات وختونه

په ځينو آيالتونو کې ډاکترانې او ډاکټران د اوسېدنيې په ځايونو کې د ملاقات وختونه ورکوي . دلته د پناه غوښتونکو روغتيايي معاينات ځای په ځای د ملاقات د وختونه په توګه تر سره کيږي .

## د درملني کاغذونه او اليکترونيکي روغتيايي کارتونه

مربوط په آيالت پوري يا به تاسو ته روغتيايي کاغذونه (Behandlungsschein) درکول شي او يا به اليکترنيکي روغتيايي کارتونه (Gesundheitskarte) .

روغتيايي کاغذ په معموله توګه د کمي مودې لپاره وي . دا کاغذونه تاسو ته هغه وخت د دولتي ادارو له خوا در کول کيږي چې تاسو ناروغه شي . ( د بيلګې په توګه د سوسيال اداري (Sozialamt) له خوا) . دا کاغذ بايد تاسو ډاکټر يا ډاکټرې ته ښکاره کړې . که ډاکټر يا ډاکټره تاسو ته در مل ليکي ( نسخه درکوي) او يا تاسو روغتون ته ليږدول غواړي ، بايد داسي کړني لومړی دولتي ادارې له خوا منظوري شي .

په ځينو آيالتونو کې پناه غوښتونکو ته د دولتي ادارو له خوا او يا د روغتيا يي بيمې له خوا اليکترونيکي روغتيايي کارتونه (Gesundheitskarte) ور کول کيږي .

اليکترونيکي کارت د روغتيايي کاغذونو ځای نيسي . پدې وسيله تاسو کولای شي ، خپل ډاکټر يا ډاکټره پخپله خوښه پيدا کړی ، بيله دې چې له دولتي ادارو نه ( لکه سوسيال دفتر ) روغتيايي کاغذ تر لاسه کړې . تاسو بايد خپل اليکترنيکي کارت په ښه توګه وساتئ .

## روغتیا یي الیکترونیکي کارتونه

د مخ پاڼه




© Bundesministerium für Gesundheit

په تاسو پورې مربوط د دولتي ادارو پته (ادرس)

(Bitte Eintragung durch jeweilige Aufnahmeeinrichtung)

## مرسته کونکي موسیسې

د اوسېدنې په ځایونو کې کېدای شي، چې مرسته کونکي موسیسې هم وي (لکه سور صلیب ، دیاکونې ، کاریتاس ، مالتیزر کومکي خدمتونه). دا موسیسې روغتیایي تامینات وړاندې کوي . تاسو لطفاً په خپل اوسېدنې ځای کې مالومات واخلئ ، چې هلته مرسته کونکي موسیسې ډاکترې مرستې کوي او یا ډاکټر په پیدا کېدو کې مرسته کوي .

# ډاکټرانې او ډاکټران په خپلو شخصي کتنځایونو کې

د ناروغي تشخیص او درملنه  په عادي توګه ډاکټرانيې او ډاکټران کوي ، چې خپل شخصي کتنځی لري او یا د نورو  ملګرو ډاکټرانو سره په ګډه کتنځی لري . دې ډاکټرانو ته اقامتي ډاکټران وايي . اقامتي ډاکټرانې او ډاکټران د درملو لپاره نسخې  ور کوي او خپل ناروغانې او ناروغان د زیاتو درملنې لپاره روغتونونو ته هم لیږ دوي .

اقامتي ډاکټرانې او ډاکټران  د خپل کار په بدل کې پیسې له سوسیال دفتر (Sozialamt) نه او یا له قانوني روغتیایي بیمې (Krankenkasse) نه اخلي .  ناروغانې او ناروغان کولای شي د خپل  علاج پیسې ډاکټرانو ته له خپله جیبه ورکړي . تا سو باید پوه شئ ، چې  تاسو بیا خپل لګښتونه  پر خپله غاړه واخلئ . دا پیسې بیا تاسو ته وروسته نه در کول کیږي .

## اړین ټکي:

زیات ډاکټرانې او ډاکټران د درملنې لپاره و ختونه ور کوي . تاسو هم باید په خپله وخت واخلئ ، تر ټولو ښه د تلیفون په توګه . که ډاکټر وخت در کړي ، باید  هغه په ټینګه توګه مراعات کړئ . هغه ناروغان ، چې له مخکې یې وخت نه وي اخیستی ، باید هلته زیات انتظار وباسي .

ډاکترانې او ډاکټران د ډاکټري مکلفیت پر اساس مجبور دي د ناروغه حال پټ وساتي. هغوي اجازه نه لري، ستاسو حال له بل چا سره شریک کړي.دخاصي ساري ناروغۍ په اړه لکه تبرکلوز باید عامي روغتیا اداري ته خبر ورکړل شي. یوازې پدې ترتیب کیدای شي دساري ناروغیو د سرایت مخه ونیول شي.دا لارشوونې پر پناه غوښتنې هیڅ بده اغیزه نه لري

## اړین ټکي:

زیات ډاکټران په انګریزي یا کومه بله ژبه خبري کولای شي . هیله ده تاسو مالومات واخلئ . که تاسو په الماني ښه نه پوهیږئ ، داسي یو کس ، چي ستاسو د اعتبار وړ وي او په الماني پوهیږي ، له ځانه سره ډاکټري او یا ډاکټر ته بوزئ .

# روغتون

په روغتون (Krankenhaus) کي ستاسو در ملنه هغه وخت کېدای شي ، چي دې اقامتي ډاکټري او یا ډاکټر درملنه کفایت و نه کړي . په روغتون کي پاته کیدل باید مخکي له مخه منظور شي . په بېړني وخت کي روغتون ته بیله منظوري تللای شئ .

# بېړني وختونه

د روغتیاله نظره بېړني وختونه (medizinische Notfälle) دا دي ،د بیلګي په توګهً:

- که یو دم نفس تنګي را منځ ته شي ،
- که یو دم په سینه کي درد پیدا شي ،
- که یو دم په نس کي درد پیدا شي ،
- که یو دم سر څرخي پیدا شي ،
- د ټکر او زخمي کېدو په وخت کي،
- د حاملګي په وخت کي ستونزي ،
- سخت رواني او روحي ستونزي ،
- د ځان وژ ني د خطر په وخت کي ،
- د نشه يي توکو بیړني وخت کي،
- د الرژي (حساسیت) شوک په وخت کي ،
- د بیهوښي او یا کوما په حالت کي .

پداسي حالتونو کي تاسو باید په نیغه ( راساً) له مرستندویه مرجع ، بیړنۍ مرجع له کوم ډاکټري یا کوم ډاکټر نه مرسته وغواړئ .

**تاسو بیړنی مرسته دلته تر لاسه کولای شئ :**

| |
|---|
| په روغتیاي بیړني حالت کي ستاسي د اوسېدني په ځای کي د اړیکو کسان :<br><br>(Bitte Eintragung durch jeweilige Aufnahmeeinrichtung) |

# در ملتون

په الماں کې زیات در مل ناروغانو ته په در ملتون (Apotheke) کې ور کول کیږ ي .
د در ملتون له خوا تاسو ته خاص درمل ( هغه درمل چې باید د ډاکټرې یا ډاکټر له خوا ولیکل شي ) ، یوازې په هغه وخت کې در کول کیږي ، چې تاسو د ډاکټر یا ډاکټرې نسخه ولرئ .
نور زیات درمل شته ، چې د هغو لپاره د ډاکټر نسخه ضروري نه ده . دداسي درملو لګښت

(پیسې) د دولتي ادارو له خوا نه در کول کیږي .

په در ملتون کې تاسو ته د درملو د کارولو په اړه مالومات در کول کیږي .

د ورځې او د شپې په هر وخت کې یو درملتون ستاسو د اوسېدنې په شا وخوا کې بیړني نوکري لري .

## نسخه کېدای شي ، چې داسې مالومېږي :




Deutscher Ärzteverlag ©

# لومړنۍ معاينې

## اړین ټکي:

د لومړنيو معايناتو (Erstuntersuchung) په وخت بايد ساري ناروغي ددې لپاره وپېژندل شي ، چې درملنه يې وشي . پدې ترتيب کيداى شي د ساري ناروغي د سرايت مخه ونيول شي .

تاسو خپل د اوسېدني ځاى ته په رسېدو سره د يوې ډاکټرې يا ډاکټر له خوا د ساري ناروغي په اړه معاينه کيږئ . دا يو قانوني مکلفيت دى . له همدې کبله تاسو مجبور ياست چې پدې معايناتو کې برخه واخلئ ! امکان شته ، چې تاسو دداسې معايناتو مخکيې له مخه يوه فورمه ( د ناروغيو سوابق په اړه) ډکه کړئ . ډاکټره يا ډاکټر ستاسو نه د ساري ناروغي د علامو په اړه پوښتنې کوي او تاسو معاينه کوي .

**د لومړنيو معايناتو نتيجه ستاسو د پناه غوښتني پر موضوع هيڅ تاثير نه لري .**

ددې لپاره ، چې د سږو تبرکلوز ناروغي په اړ اطمينان حاصل شي ، بايد د سږو عکسونه واخيستل شي . د هغو ماشومانو چې عمر يې تر ۱۵ کلونو کم وي او د حامله ميرمنو معاينات بيا د عکسونو په بدل کې په بل ترتيب اجرا کيږي ( د بيلګې په توګه د وينې معاينات) . هيله ده تاسو د معايناتو په وخت کې ډاکټره او يا ډاکټر خپلې حامله ګې ته پام لرنه (متوجه) کړئ !

په ځينو آيالتونو کې نور معاينات هم تر سره کيږي . د وينې اخيستلو مانا داده چې د ساري ناروغيو په اړه اطمينان حاصل شي . د غايطه موادو معايناتو په وسيله د اسهال ميکروب او په نس کې چينجې پيژندل کېداى شي .

هيله کيږي چې د ټولومعايناتو په اړه يادداشت واخلئ . که تاسو ته د يادداشت لپاره کوم کاغذ نه وي درکړه شوى ، تاسو کولاى شئ په هغه فورمه کې يادداشت واخلئ ، کومه چې دلته په ۱۱ پاڼه کې ضميمه ده .

# واکسین

واکسین انسانان له هغو ناروغیو نه ژغوري ، چې د مکروبونو په وسیله را منځ ته کیږي . انسانان چې زیات واکسین شوي وي ، ناروغې د نفوسو په منځ کې پراختیا نه شي موندلای .

امکان لري ، چې تاسو به یوه د واکسین کتابچه ولرئ . هلته به لیکل شوي وي ، چې تاسو تر دې دمه کوم واکسینونه اخیستي دي . که تاسو تر اوسه د واکسین کتابچه (Impfausweis) نه لرئ ، تاسو ته به د ډاکترې یا ډاکټر له خواتر واکسین وروسته یوه کتابچه او یا په بدل کې یې یو کاغذ در کړه شي .

## اړین ټکي:

په المان کې چې ځیني واکیسنونه کیږ ي ، د هغو په اړه ځیني توصیې هم کیږي . ځیني واکیسنونه شته ، چې د ښه تاثیر او ساتنې لپاره باید څو ځله وشي . له همدې کبله کېدای شي ، چې د واکسین لپاره نور وختونه هم در کړه شي . په دې اړه تاسو د خپل اوسېدنې په ځای کې له روغتیایي کارکونکو نه پوره مالومات لاس ته راورئ .

په المان کې چې ځیني واکیسنونه کیږ ي ، د هغو په اړه ځیني توصیې هم کیږي . ځیني واکیسنونه شته ، چې د ښه تاثیر او ساتنې لپاره باید څو ځله وشي . له همدې کبله کېدای شي ، چې د واکسین لپاره نور وختونه هم در کړه شي . په دې اړه تاسو د خپل اوسېدنې په ځای کې له روغتیایي کارکونکو نه پوره مالومات لاس ته راورئ .

## حاملګي

د حامله میرمنو روغتیا تأمین ده . د حاملګي بهیر او د ماشوم وده تر کنټرول لاندي وي . په دي اړه (ارتباط) پر قاعده برابر معاینات کیږي (د بېلګي په توګه د ویني معاینات ، د ادرار معاینات او زونو ګرافي)، د لنګون لپاره اماده ګي ، لنګون او تر هغه وروسته پرستاري . که تاسو حامله یاست ، تاسو ته د ډاکټري او یا ډاکټر له خوا د مور والي کتابچه (Mutterpass) در کول کیږي . په مور والي کتابچه کي د معایناتو وختونه لیکل کیږي . د ماشوم د پیدا کېدو په وخت کي(لنګون) دایي ګاني ، ډاکټراني او ډاکټران اجرأت کوي . تر لنګون وروسته بیا هم دایي ګانې او د لنګون پرستاراني مهم د اړیکوکسان دي .

## ماشومان او ځوانان تر ۱۸ کلني عمر پوري

د معمول سره برابر پلار او مور ته د ماشوم تر پیدا کېدو وروسته د ما شوم د معایناتو لپاره یوه کتابچه ور کول کیږي . پدې کتابچه کي په دقیقه او واضح توګه لیکل شوي ، چې په کومو وختونو کي کوم معاینات باید تر سره شي .

### اړین ټکي:

هیله کیږي چي ددې کتابچې ښه ساتنه وکړئ او هر ځل ډاکټر ته د ماشوم ور وستلو په وخت کي له ځانه سره ولرئ .

د ما شومانو لپاره تر شپږ کلني پورې زیاتي معاینې په پام (نظر) کي نیول شوي دي . لومړنۍ معاینه تر زیږیدو وروسته سمدستي کیږي . د بدن ټول فعالیت ( میتابولیسم)، د حس اعضا ( د بیلګي په توګه اوریدنه ، لیدنه) ، تنفس ، هاضمه او عضلات ټول کتل کیږي . رشد او د حرکاتو تکلیفونه ټول په نظر کي نیول کیږي .

د هلکانو لپاره چي عمر يې د ۱۲ تر ۱۴ کلونو پوري وی ، د يوې بلي معاينې توصيه هم کيږي . په دې وسيله بايد د هلک په جسمي او رواني ودي کې ستونزو ته پام لرنه (توجه) وشي او وپيژندل شي . ډاکتره يا ډاکټر د هلک قد ، وزن او د وينې فشار معاينه کوي .

دا معاينې اړين (مهمي) دي ، تر څو ستاسو د اولاد سالمې ودي ته انکشاف ورکړل شي . له همدې کبله هيله کيږي ، چي د ټو لو معايناتو وختونه په پام (نظر) کې ولرئ او پام لرنه ور ته وکړئ .

## د غاښو در ملنه

د غاښونو ددرد په وخت کي او دخولې د ناروغۍ په وخت کي درملنه کيږي .

# 2. د ناروغیو او میکروب اخیستلو نه د ځان ژغولو په اړه عملي لار ښودنې

اوبه او خوراکي توکي په الماني کي ددولت له خوا کنټرول کيږي . د نلونو اوبه ښه جنسيت لري او بيله تشويش نه د چښلو وړ دي .

داوسېدني په ځايونو کي په يوه کوټه کې زيات انسانان اوسيږي . ښه به دا وي چي له خپل بوتل نه اوبه وچيښئ . له همدې کبله به ښه وي ، چې خپل بوتل نښاني کړئ .

د اوسېدني په ځايونو کې کېداى شي ، چې ناروغۍ ډېر ژر پر اختيا و مومي . که تاسو پاکي او نظافت ته پام (توجه) وکړئ ، نو تاسو به خپل ځان او نور کسان له ميکروبونه نه وژغورئ . له همدې کبله د نظافت په اړه دا لاندې لارښودنه کوو :

## په دقت او دوام داره توګه د لاسونو وينځل

په دوام داره توګه د لاسونو وينځل د ميکروبونو د مخنيوي په لاره کي مهم ګام دی

### لاسونه په څه وخت وينځو ؟

په خاصه توګه تاسو بايد خپل لاسونه هغه وخت و وينځئ :

- تر چټل کېدو وروسته،
- د خوراکي توکو تر برابره ولو دمخه،
- د غذا تر خوړولو د مخه ،
- د سګريټو تر څکولو او تر چيښولو د مخه ،
- تشناب ته تر تګ وروسته ،
- پر حيواناتو تر لاس تيرولو وروسته،
- په لاسونو کې تر ټوخا او ترچا وروسته،
- د پوزي تر پاکيدو وروسته ،
- د چټليو سره تر تماس وروسته .



© Bundeszentrale für gesundheitliche Aufklärung

## د لاسونو پریوللو په وخت کې باید څه ته پام وکړل شي ؟




لاسونه تر جاري اوبو لاندي ونیسئ او لانده یې کړئ !

لاسونه په مکمله توګه په صابون ووهئ (ښه به دا وي چې له مایع صابون نه کار واخلئ ، دا ځکه چې کلک صابون تل میکرو ب لري ) !

د ګوتو مینځونه او د ګوتو سرونه څه نا څه ۲۰ نه تر ۳۰ ثانیو پورې په صابون داسې ووهئ ، چې ټول په مکمله توګه صابون شي .

صابون ټول په اساسي توګه تر جاري اوبو لاندي له لاسونو نه پاک کړئ !

لا سونه په غور په پاک دستمال او یا د یو ځل استعمال کاغذي دستمال په وسیله وچ کړئ .

© Bundeszentrale für gesundheitliche Aufklärung www.bzga.de

# ټوخا او ترچا کول



په لاسونو کې ټوخا او تر چا مه کوئ .، بلکه د مړوند په منځ کې اْو یا په یوه کاغذي دستمال کې له نورو نه لیري یې وکړئ .



د پوزې د پاکولو لپاره له کاغذي دستمال نه کار واخلئ ، اما له هغه نه فقط یو ځل کار واخلئ .



کاغذي دستملونه په هر ځای کي مه پریږدئ ، پر ځمکه یې مه اچوئ او یایې د پطلون ،کرتۍ او د ښځینه لمن (دامن) په جیب کي یې مه ساتئ او له ځانه سره یې مه جمع کو ئ !



د کاغذي دستملونو ځای د چټلي سطلونه دي !



د ریزش ( سرما خوردګي) په وخت کي لاسونه ژر ژر ومینځئ .

© Bundeszentrale für gesundheitliche Aufklärung

## لو مړنیو علامو ته توجه وکړئ

که تاسو ریزش ( سرما خوردګي) ولری او یا ستاسو معده میکروب واخلي ، ډیر امکان دي ، چي نور کسان یي ستاسو نه واخلي . د ځان او د نورو د ساتني په موخه د ریزش لومړنیو علاٌمو ته پام (متوجه) اوسئ : د ګریپ خاصه علامه نا څاپه لوړه تبه ، سخت ناروغي حالت ، ټوخا او د عضلاتو درد ، نا څاپه د استفراق احساس ، ا و استفراق دی .

اسهال کېدای شي د معدې او کلمو د مکروب نبني وي .

### اړین ټکي:

داسې علامې باید جدي ونیسئ او د خپل اوسیدني په ځای کي روغتیایي کار کونکو ته مراجعه وکړئ .

## Anhang 1: Untersuchungen

## ضميمه 1: معاينات

| Datum der Untersuchung<br>د معاينې پرېکړه | Inhalt und Ergebnis der Untersuchung<br>د معاينې پوره متن او پرېکړه | Unterschrift / Stempel der Ärztin / des Arztes<br>د ډاکټرې يا ډاکټر لاسليک - مهر |
|---|---|---|
| | | |
| | | |
| | | |
| | | |
| | | |
| | | |

# ضميمه 2: د واکسين د مالومات ليکلو لپاره عوضي فورمه

# Anhang 2: Ersatzformular zur Dokumentation von Impfungen

Nachname: ............................................
کورني نوم (تخلص)

Vorname: ............................................
اصلي نوم

Geschlecht: ............................................
جنسيت

Geboren am: ............................................
د زيږيدني نيټه

Herkunftsland: ............................................
د زيږېدني هيواد

Unterbringungseinrichtung: ............................................
د اوسېدني ځای

**Folgende Impfungen wurden durchgeführt:** دا لاندي واکسينونه ور کول شوي دي

| Datum نېټه | Handelsname und Chargennummer des Impfstoffs (Aufkleber) د واکسين تجارتي نوم او د توليد شمېره (نمبر) (سرېښدلو ځای) | Totimpfungen وژونکي واکسينونه | | | | | | | Lebendimpfungen ژوندي واکسينونه | | | | Unterschrift und Stempel der Ärztin/des Arztes د ډاکټرې يا ډاکټر لاسليک او مهر |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | Tetanus تيټانوس | Diphtherie ديفتري | Pertussis توره غاره | Polio فلج | Hib هيب | Hepatitis B ژړی ب | Influenza انفلوينزا | Masern سرې | Mumps او ريون | Röteln لړمکی | Varizellen تڼاکي | |
| | | | | | | | | | | | | | |
| | | | | | | | | | | | | | |
| | | | | | | | | | | | | | |
| | | | | | | | | | | | | | |

**Weitere Impfungen:** نور واکسينونه

| Datum نېټه | Impfung gegen واکسين په مقابل کي د | Handelsname und Chargennummer تجارتي نوم او د توليد شمېره (نمبر) | Unterschrift und Stempel der Ärztin/des Arztes د ډاکټرې يا ډاکټر لاسليک او مهر |
|---|---|---|---|
| | | | |
| | | | |

Nächster Impftermin (Datum/Impfungen): ............................................
د راتلونکي واکسين وخت ( نېټه - واکسينونه )

............................................

دا چاپي ليکنه  د روغتيا فدرالي وزارت له خوا د عامه کارونو په چوکاټ کي په مجاني توګه خپره شوې .
اجازه نه شته چي  د يوې پارټۍ يا د ټاکنو تبليغيانو او يا د ټاکنو مرسته کونکو له خوا د ټاکنو په وخت
کي د ټاکنو د تبليغاتو په موخه و کارول شي . دا ممانعت  د اروپايي  ټاکنو ، د المان پارلماني ټاکنو،
آيالتي ټاکنو او محلي ټاکنو لپاره هم صدق کوي . سوءُ استفاده په خاصه توګه هغه وخت هم ده ، چي  د
ټاکنو په پروګرامونو او معلوماتي غرفو کي وويشل شي او يا هلته کيښودل شي ، پر حزبي  معلومات پاڼو
او يا تبليغاتي پاڼو باندي چاپ شي . همدارنګه اجازه نه شته  دريم کس ته  د ټاکنو د تبليغ په موخه
ورکړه شي . پدې پوري اړه نه لري ، چي دا ليکنه  تسليمونکي ته څه وخت  ، له کومي لاري او په
کومه اندازه رسېدلي وي . همدارنګه نه شي کېداى چي  هم د نا معلوم وخت په نظر کي نيولو سره په
راتلونکو ټاکنو کي وکارول شي  ، دا ځکه چي پدي ترتيب د فدرالي حکومت په طرف د يوه سياسي
ګروپ په ګټه احساس را منځ ته نه شي .

Diese Druckschrift wird im Rahmen der Öffentlichkeitsarbeit des Bundesministeriums für Gesundheit kostenlos herausgegeben. Sie darf weder von Parteien noch von Wahlwerbern oder Wahlhelfern während des Wahlkampfes zum Zwecke der Wahlwerbung verwendet werden. Dies gilt für Europa-, Bundestags-, Landtags- und Kommunalwahlen. Missbräuchlich ist besonders die Verteilung auf Wahlveranstaltungen, an Informationsständen der Parteien sowie das Einlegen, Aufdrucken oder Aufkleben parteipolitischer Informationen oder Werbemittel. Untersagt ist gleichfalls die Weitergabe an Dritte zum Zwecke der Wahlwerbung. Unabhängig davon, wann, auf welchem Weg und in welcher Anzahl diese Schrift dem Empfänger zugegangen ist, darf sie auch ohne zeitlichen Bezug zu einer bevorstehenden Wahl nicht in einer Weise verwendet werden, die als Parteinahme der Bundesregierung zugunsten einzelner politischer Gruppen verstanden werden könnte.